| | | |
|---|---|---|
| جمهورية مصر العربية | | ١٦ ذوالقعدة ١٤٤٠هـ |
| وزارة الأوقاف | لغة البشتو | ١٩ يوليو ٢٠١٩م |

(١)

## په ټولنو او هيوادونو باندي د منافقت او خيانت زيانونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي:« **ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ بَعۡضُهُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمُنكَرِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَقۡبِضُونَ أَيۡدِيَهُمۡۚ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمۡۚ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ**»ژباړه:« منافقان نارينه او منافقاني ښځي، ټولي يو د بل په څير دي. په بدئ امر کوي او له نېکئ څخه منع کوي؛ او خپل لاسونه له خير څخه موټي کړي ساتي. دوی الله هېر کړ، نو الله هم دوی هير کړل. په يقيني ډول دا منافقان همدوی فاسقان دي.»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، په حديث شريف کې فرمايي:د منافق نښي دری دي: هرکله چې خبری کوي دروا‌غ وايي، کله چې وعده وکړي وعده خلافي کوي، او کله چې ورته امانت وسپارل شي خيانت کوي.، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکئ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

بی له شکه منافقت ډيره ناوړه ناروغي او وژونکي وبا ده چي وګړې او ملتونه د هلاکت سره مخامخ کوي، دا د زړه هغه خطرناکه ناروغي ده چې د ايمان حقيقت له منځه وړي او بنسټونه او ارکان يي نړوي، دا هغه خطرناک ټولنيز او فطرتي آفت دی چې د ټولني امنيت سلامتيا او برقراري له منځه وړي، له همدي کبله د کفر او شرک څخه ددي خطر ډير دی ځکه چې دا داسي يوه ناروغي ده چې که د امت په بدن کې داخل شي نو د هغي هډوکي اوجوي او په منځ کې يي بې اتفاقي خپروي.

همدارنګه د خیانت او جاسوسي د تاریخ په اوږدو کې د هیوادونو د شتون د له منځه وړني لپاره تر ټولو خطرناکه وسله وه، او ددي لویه ګواهي دا ده هغه هیوادونه چې ویجاړ شوي او له منځه تللی په واقعیت کې د خپل کور دننه خلکو له کبله له منځه تللي، ځکه چې پدي لاره کې د خائنانو جاسوسانو او د پردیو لاس او رول ډیر وو، ځکه همیشه هغه ننګوني چې هیوادونه د داخلي خلکو له کبله ورسره مخامخ کیږي د بهرنیو ننګونو څخه ډیر خطرناک وي.
دلته مناسبه ده چې مونږ پدي ځان پوه کړو چې منافقت په دوه ډوله دی لوی او وړوکی، لومړی ډول یي لوی منافقت دی چې دا ډیر خطرناک دی او دا عقیدوي منافقت دی چې خاوند یي په ښکاره ځان اسلام ته پابند بولي په حقیقت کې هغه کافر وي دا ډول منافق به همیشه په اور کې وي،بلکي د دوزخ په آخریني طبقه کې وي او دوهم ډول بیا وړوکی منافقت دی چې مقصد تری عملي منافقت دی چې په سلوک کې برڅیره کیږي او د منافقت نښي پکي رامنځته کیږي لکه یو څوک چې په ښکار ځان ښیګني کوونکی بولي او واقعیت داسي نه وي دا ډول منافقت خاوند یي د دین څخه په بشپړ ډول نه بهر کوي خو دا لوی منافقت ته لاره هواروي که چیرته خاوند یي توبه ونکړي.
قرآن کریم او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم احادیثو کې د منافقینو د هغوی د اوصافو اخلاقو او دسیسو په هکله مونږ ته خبري کړي دې، هغه څه چې مونږ ګورو د زماني او د ځای په بدلیدو سره دا ندي بدل شوي، لویي نښې چې منافقین پري پیژندل کیږي په لاندي ډول دي:
دروغ، د وعدي خلاف ورزي، امانت کې خیانت، او د جګړې په وخت کې ښکنځلي کول: دا هغه بد صفتونه دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته د منافقینو په هکله بیان کړې دې لکه چې فرمایي: څلور کارونه چې په چا کې وي هغه خالص منافق ګڼل کیږي، او که په یو چا کې لدې څأورو څخه یو خصلت موجود وي نو د منافقت خصلت پکې دي

تر هغه چې پرېږدي، په امانت کې خیانت، په خبرو کې دروغ، په وعده کې خلاف ورزي، په جګړه کې ښکنځلي کول، په چا کې چې دا خصلتونه را جمع شي او یا هم یو خصلت پکې پیدا شي نو منافق ګڼل کیږي، دا هغه صفتونه دي چې د امت ګټي له منځه وړي.

ډیر وخت داسي وي چې مونږ منافق ګورو درواغ وایي خو بل چاته دا فکر ورکوي چې په کړه او وړه کې ریښتیني دی، الله تعالی فرمایي:**(وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ)**ژباړه:« په انسانانو کي ځوك داسي دي چي د هغه خبري د دنیا په ژوند کښي تا ته ډیري ښې ښکاري او هغه پر خپلي نېك نیتۍ په وار وار الله شاهد نیسي، خو په حقیقت کي هغه د حق ډېر سخت دښمن وي.»، کله چې په قرآن کریم کې منافقت دوکه او په امانت کې د خیانت بیان کیږي نو ترڅنګ یي د درواغ ویلو ذکر هم کیږي لکه چې الله تعالی فرمایي: **(يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ* فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ)**ژباړه:« هغوی له الله او مؤمنانو سره ټګي کوي، خو په اصل کښي په خپله خپل ځانونه غولوي او له هغو سره ددې شعور نشته* د هغوی په زړونو کښي یوه ناروغي ده، چې الله هغه لا پسي زیاته کړه. او کوم درواغ چي هغوی وایي، د هغه په بدله کي د هغو له پاره دردوونکی عذاب دی.»، او نبي کریم صلی الله علیه وسلم د درواغو په هکله خبرداری ورکړی دی او د هغي اغیزي یي بیان کړې لکه چې فرمایي: د درواغ ویلو څخه ډډه وکړئ ځکه چې د ګناهونو سبب ګرځي او ګناهونه د دوزخ اورته د داخلیدو لامل، او تل هغه انسان درواغ وایی چې د درواغو په هکله فکر کوي تردی چې د الله تعالی په وړاندی کذاب لیکل کیږي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه: آیا مسلمان ډاریدونکی وي؟ وفرمایل: هو، وویل شو: آیا مسلمان بخیل وي؟ وفرمایل: هو، وویل شو آیا مسلمان درواغجن وي؟ وفرمایل: نه، ابوبکر صدیق رضي الله عنه

دروغ ویل په خیانت کولو سره وصف کړی دی، لکه چې فرمایي: رېښتینولي امانت او کذب خیانت دی.
همدارنګه د پردیو و په خیانت او مزدوري د مینی او محبت اړیکي پرې کیږی، او د هغه کرکي لامل ګرځي چې اختلافات او بدبختي رامنځته کوي، معاملات او راکړې ورکړې فاسدیږي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم بیان کړې دي چې په امانت کې خیانت کول د آخرت په ورځ د خاین د رسوايي او پښیماني لامل ګرځي، لکه چې فرمایي: کله چې الله تعالی د قیامت په ورځ اولین او آخرین سره را جمع کړي نو د هر خیانتکار لپاره یو بیرغ پورته کیږي، نو ویل کیږي دا د فلان بن فلان د خیانت بیرغ دی، او نبي کریم صلی الله علیه وسلم د قیامت په ورځ د خیانتکار دښمن وي، لکه چې فرمایي: زه د قیامت په ورځ د دری ډلو دښمن یم، د هغه چا چې ماسره خصومت وي د هغه سره خصومت کوم: چاچې زما په نوم چاته یي څه ورکړي وي او بیا یي پکې خیانت کړی وي، هغه څوک چې یو آزاده انسان یي خرڅ کړي یي او د هغه بیه یي خوړلې وي، او هغه سړی چې د مزدورکار پیسې یي پوره نه وي ورکړې.
او ترټولو لوی خیانت د هیواد سره خیانت او د هغې خرڅول په ډیره کمه بیه باندی دی، لکه څرنګه چې نن تندروي ډلې اود هغو پیروان خپل هیوادونه په ډیر ناچیزه قیمت باندې خرڅوي.
او ځیني نور هغه بد صفات چې اسلام د هغو نه خبرداری ورکړی: د جګړې په وخت کې ښکنځلې کوي، ځکه دا کار د ټولو بدیو مرکز ، او د ټولو بدو کارونو سرچینه، او د حقیقت او عدالت څخه د لرې والي لاره ده، ځکه حق باطل او باطل ته حق وایي، الله تعالی فرمایی:**« وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ»** «په انسانانو کې څوك داسې دي چې د هغه خبرې د دنیا په ژوند کښې تا ته ډیرې ښې ښکاري او هغه پر خپلې نېك نیتۍ په وار وار الله شاهد نیسي، خو په حقیقت کې هغه د حق ډېر سخت دښمن وي»، او

دحضرت عایشه رضي الله عنها څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: منفورترین شخص د الله په نزد هغه څوک دی چې په دښمني کې ترټولو سرسخت وي.
نو د منافقو نږدی وصف دوه مخه اوسیدل دي، بلکي پدغه وخت کې ګورو چې هغوي د هر حد څخه تیر شوي دي، چې د زړو نه ډیر مخونه لري، هغوي د الله تعالی ډیر شریره مخلوقات دي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: ګوري چې ترټولو بد خلک دوه مخي خلک دي، یوي ډلي ته په یو مخ راځي او بلي ته په بل مخ.
او ځیني نور د نفاق د نښو څخه:
د ځمکي په سر فساد کول پدي دعوا سره چې اصلاح رامنځته کوو: لکه چې الله تعالی فرمایي:**« وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ قَالُوٓاْ إِنَّمَا نَحۡنُ مُصۡلِحُونَ* أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡمُفۡسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشۡعُرُونَ»** ژباړه:« کله چې هغوی ته وویل شول: "په ځمکه کښې فساد مکوئ!" - نو هغوی همدا وویل: "موږ خو اصلاحات را وستونکي یوو* پام ولرئ! په حقیقت کې همدوی فساد کوونکي دي، خو شعور ورسره نشته.»، فساد د ځمکی په سر ډیری ډولونه لري ځیني یي دادي:فتنه اچول، د یو واقعي مسلمان په نفس کې سستی راوستل، او د خلکو ترمنځ ناوړه فکرونو او انحرافي سوچونو خپرول په غلطو مفهومونو سره، الله تعالی فرمایي:**« لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمۡ إِلَّا خَبَالٗا وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ وَفِيكُمۡ سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ »** ژباړه:« که هغوی ستاسي سره وتلي وای، نو په تاسي کښې به یې له تخریب څخه پرته نور څه نه وای زیات کړي. هغوی به ستاسي په منځ کښي د فتني اچولو لپاره منډي ترډي کړي وای. او ستاسي د ډلي حالت دا دی چې تر اوسه پوري پکښې ډېر داسي خلك

شته چي د هغو خبري (ستاسی د ضرر لپاره) اوري. الله دا ظالمان ښه پېژني.» او په بل ايت کې فرمايي:**«وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلۡحَرِّۗ قُلۡ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوۡ كَانُواْ يَفۡقَهُونَ»** ژباړه:« دوی ته ووايه چي: د دوږخ اور له دېنه زيات ګرم دی. - کاشکي دوی په دې پوهېدلای.»، او په بل ايت کې فرمايي:**« قَدۡ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلۡمُعَوِّقِينَ مِنكُمۡ وَٱلۡقَآئِلِينَ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ هَلُمَّ إِلَيۡنَاۖ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلۡبَأۡسَ إِلَّا قَلِيلًا»** ژباړه:« الله ستاسي څخه هغه کسان ښه پېژني چي (د جنګ په کار کښې) خنډونه اچوونکي دي، او خپلو ورونو ته وايي: "راشئ زموږ خوا ته" او که په جنګ کښي برخه اخلي هم نو صرف تش په نامه؛»، او ځيني نور د فساد د ډولونو څخه د ځمکي پرسر: د خلکو حق په پوره ډول سره نه ورکول او د هغو مقام ټيټول دي، الله تعالی فرمايي:**« وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ»** ژباړه: «او خلکو ته د هغو شيان کم مه ورکوئ. په ځمکه کښي فساد مه خپروئ؛»او ځيني نور د شکلونو څخه يي: ويجاړی او ورانی، د بيګناه خلکو وژل، د ټولنو په منځ کې د وحشت خپرول، او د خلکو ګټي د پامه اچول او د مسئوليتونو نه سرته رسول دي، همداسی رشوت اخيستل، واسطي اود خلکو مال په ناحقه خوړل دي.

د عبادت په سرته رسولو کې سستي او رياکاري په ځانګړی توګه په لمونځ کې چي تر ټولو غوره او ښه عمل دی، الله تعالی فرمايي:**« إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمۡ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا»** ژباړه:« دا منافقان له الله سره د غولوني کار کوي؛ په حقيقت کي الله هغوی په غولېدنه کښي غورځولي دي. کله چي دوی لمانځه ته پاڅيږي نو يوازي خلکو ته د ځان ښووني

لپاره مړ ژواندي پاڅيږي او خدای ډېر لږ يادوي.»، او په بل ايت کې فرمايي:« **وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ إِلَّآ أَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمۡ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمۡ كَٰرِهُونَ**» ژباړه:« د هغو د ورکړل شويو مالونو د نه قبلېدو دليل له دې پرته بل څه نه دی، چې هغوی په الله او د هغه پر پېغمبر کافران شويدي. لمانځه ته چې راځي نو زړه نا زړه راځي. او د خدای په لار کښې چې لګښت کوي، نو په بد زړه يې کوي.»، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايی: هيڅ يو لمونځ پر منافقينو ګران ندي مګر د سهار او ماخښتن لمونځ، اګر د هغه په ثواب پو هيدل نو حتما به يی اداء کولو که ناتوان هم واي.

او جابر بن عبدالله رضي الله عنه فرمايی: نبي کريم صلی الله عليه وسلم بيرون ته راغی او وی فرمايل: اي خلکو د پټ شرک څخه پرهيز وکړي، وويل: ای د الله رسوله! پټ شرک يعني څه؟ وفرمايل: يو سړئ په لمونځ ودريږی او خپل لمونځ ډير په ښه طريقو زينتوي چې خلک ورته ګوري، دا پټ شرک دی.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

يقينا د نفاق د ځينو نښو څخه: د دښمن سره اړيکه لرل او يو ځاي کيدل د دين او وطن پر ضرر دی، په جاسوسی ، خيانت، د يو ځای نه بل ځای ته معلومات او خبری وړل، او د هيواد د رازونو افشاء کول دښمن ته، نو منافق هغه مزدور دی چې د هيواد، اهل، ګاونډيو او خپلوانو په ضرر د دښمن سره مرسته کوي، الله تعالی فرمايي: **«فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِيَ بِٱلْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِۦ فَيُصْبِحُوا۟ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّوا۟ فِيٓ أَنفُسِهِمْ نَٰدِمِينَ»** ژباړه: «ته ګورې، د چا په زړونو کښي چې د نفاق ناروغي ده، هغوی په هماغوی کښي په منډو تړړو اوړي را اوړي. وايي: "موږ وېريږو چې په کوم غم اخته نشو." - خو ليري نه ده چې کله الله تاسي ته غوڅ بری درپه برخه کړي؛ يا له خپل لوري څخه کومه بله خبره څرګنده کړي، نو دا خلك به په خپل دغه منافقت چې په زړونو کښي يې پټوي پښېمانه وي»او همداسی فرمايي: **«وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنْ أَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَالَ قَدْ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا وَلَئِنْ أَصَٰبَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ ٱللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُنۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُۥ مَوَدَّةٌ يَٰلَيْتَنِي كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا»** ژباړه: « هو، ځني ستاسو څخه داسي وي چې له جګړې څخه ځان ګوښه کوي؛ کله چې پر تاسي کوم مصيبت راشي، نو (دا منافق کس) وايي: «الله پر ما لويه مهرباني وکړه چې زه له دې خلکو سره حاضر نه وم.* او که د الله له لوري پر تاسي لورېنه وي؛ نو (منافق کس) وايي او په داسي شان يې وايي چې ګواکي ستاسي او د هغه تر منځ  د دوستی خو له سره کومه اړيکه نه وه، چې کاشکي زه هم له هغو سره وای؛ نو پوره برياليتوب به مي تر لاسه کړی وای.»، نو منافق کله چې هيواد او وګړو ته ضرر ورسوي او يا د هغو په منځ کې فتنه واچوي، او يا د هغو په منځ کې کوم مرض خپور شي او يا هغوي ماتی وخوري، هغه خوشحاليږي، الله تعالی فرمايي: **«إِن تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا۟ بِهَا ۖ وَإِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا ۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ»** ژباړه:

«که تاسي ته څه ښېګڼه رسيږي، نو هغوی خپه کيږي؛ او که پر تاسي څه مصيبت راځي، نو دوی پرې خوشحاليږي. خو د هغوی هيڅ دسيسه ستاسي پر خلاف اغيزمنه کېدای نشي، په دې شرط چې تاسي له صبر څخه کار واخلئ او له الله څخه د وېرېدو سره عمل وکړئ. دوی چې هر څه کوي د الله د علم په چاپېريال کښي دي».
مګر دا نوي منافقينو علاوه ددغه صفتونو لکه خيانت، درواغ، غدر، وعده خلافي، د فساد خپرول د خلکو ترمنځ، په دين کې خيانت کول نور ډولونه د فريبکاري وراضافه کړي دي، چې مشهوره يي د دين خرڅول او د دين څخه ناوړه ګټه پورته کول د خپلو اهدافو د رسيدلو لپاره چې غواړي دين د قدرت ته د رسيدلو وسيله وګرځوي، نو په بيلابيلو ډولونو د شکلي ديندارې، او سياسی دينداري او فريبکاري ځانونه چمتو کوي، او ځان د نورو څخه پرهيزګار بولي، ترڅو وکولاي شي خپل ناوړه کردار او اعمالو ته د شريعت رنګ ورکړي، ددی علاوه نوي منافقين خپل هيواد سره خيانت کوي او هغه په ناچيزه قيمت باندی خرڅوي.
الله تعالي دا ډله خلکو ته خبرداری ورکړی او فرمايلي يي دي چې حتما به د الله جل جلاله په غضب او لعنت سره په دنيا او آخرت کې ککړ کيږي، او د دوي دا پلان چې مسلمانان به په سختيو او مشقت کې واقع کړي پدوي عملي کيږي، الله تعالی فرمايي:« **وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ**» ژباړه:« او د ناوړه دسيسو په کار اچول يې شروع کړل. پداسي حال کښي چې ناوړه دسيسې همدې خپلو کار اچوونکو ته ور له غاړې کيږي.»، همدارنګه الله تعالی فرمايي:« **مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا**» ژباړه:« (منافقين) د کفر او اسلام په منځ کښي حيران او زړه نازړه دي؛ نه پوره دې خوا ته دي، نه پوره ها خوا ته. خدای چي څوك ګمراه کړی وي، ته هغه ته کومه لاره نه شي موندلای» او په بل ايت کې فرمايي:« **يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْۚ هُمُ ٱلْعَدُوُّ فَٱحْذَرْهُمْۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ** » ژباړه: «دوی هر زورور اواز د

ځان پر ضد ګڼي؛ دوی پاخه دښمنان دي. له دوی څخه ځان ساتونکی اوسه؛ خدای دي دوی ووهي، دوی کوم لوري ته اړول کیږي.»، الله تعالی د هغوي زړونه د الله او د هغه د رسول د احکامو د درکولو څخه ګرځولي دي، نو د هغو زړونو ته هیڅکله هدایت نه رسیږي او هیڅ یو ښه کار نه ترسره کوي، الله تعالی فرمایي: « **ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ**» ژباړه:« دا هر څه له دې امله دي چي دوی ایمان راوړ، بیا کافران شول، له دې امله د دوی پر زړونو مُهر ولګول شو؛ اوس دوی په هیڅ نه پوهیږي»، مګر د هغو د سزاء په هکله د آخرت په ورځ کې الله تعالی فرمایي:« **وَمِمَّنۡ حَوۡلَكُم مِّنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مُنَٰفِقُونَۖ وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعۡلَمُهُمۡۖ نَحۡنُ نَعۡلَمُهُمۡۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيۡنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٖ**» ژباړه:« او ستاسي شاوخوا ته چي کوم باندچیان (صحرایي عراب) اُوسیږي، له هغو څخه زیاتره منافقان دي. او په همدې توګه په خپله د مدینې په اوسېدونکو کښي هم منافقان شته چي منافقت یې خوی ګرځېدلی دی. ته هغوی نه پېژنې، موږ یې پېژنو. هغه وخت نژدې دی چي موږ هغو ته دوه کرته سزا ورکړو، بیا به هغوی د ډیري ستري سزا لپاره بېرته بوتلل شي.»، نو لومړی عذاب په دنیا کي او دوهم عذاب به قبر کې دی، مګر لوي عذاب بیا په آخرت کې دی، ځکه الله تعالی منافقان او د هغوي په شان نور د دوزخ په اور کې سره راټولوي لکه چې فرمایي:« **إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡكَٰفِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا**» ژباړه:« الله منافقان او کافران په دوږخ کښي یو ځای راغونډوي.» او په بل ایت کې فرمایي:« **إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمۡ نَصِيرًا * إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَٱعۡتَصَمُواْ بِٱللَّهِ وَأَخۡلَصُواْ دِينَهُمۡ لِلَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَسَوۡفَ يُؤۡتِ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَجۡرًا عَظِيمٗا**» ژباړه:« باور ولرئ چي منافقان به د دوږخ تر ټولو لاندینۍ طبقې ته لاړ شي او ته به هیڅوك د هغوی مرستندوی ونه مومې.* البته له هغو څخه چي کوم کسان توبه وباسي او خپل کړه وړه سم کړي او د الله د

هدایت لمن ونیسي او خپل دین د الله لپاره خالص وګرځوي، داسي خلك له مؤمنانو سره دي او الله به مؤمنانو ته هرو مرو لوی ثواب ور په برخه کړي».

د هیواد او خاوري ساتني لپاره باید ساتونکي سترګي د هغه د مخلص او با وفا بچیانو تل خلاصی وي، او د هیواد ټول نیک بچیان باید د خائنانومزدورانو او د دښمن د جاسوسانو او ټولو مجرمینو د ریښو د لمنځه وړلو لپاره باید سره په اتفاق او انحاد کې ووسي، او هغوي د ټولو په مخ کې رسوا او نورو ته د عبرت وسیله وګرځوي، ترڅو دین، هیواد، عزت او ابرو، ځان او د هیواد او د بچیانو اینده مو د هغوی شر څخه وساتلی ش، ترڅو الله تعالی راضي او خوشحاله شي، او مونږ‌د هغه هیوادونود سرنوشت څخه وساتي چې د خائنینو او مزدورانو او پردیو په وړاندی د کمزوري او سستي کار اخیستی دی.

یا الله! زړونه مو د نفاق، سترګي مو د خیانت، ژبي مو د درواغ ویلو پاک کړي، او د مصر او د هغي خلک پخپل پناه کې وساتي.